(1)

**وفا کول او د نیکیو په مقابل کې نیکي کول**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **«وَلا تَنْسَوُا الفَضْلَ بَيْنَكُمْ »ژباړه:« په خپل منځي چارو کښې مروت مه هېروئ. »** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

یقینا وفا کول او د نیکیو په مقابل کې نیکي کول د لوړو انساني ارزښتونو له جملې څخه ګڼل کیږي همدارنګه د ښه ؤ اخلاقو څخه ګڼل کیږي چې زمونږ دین بدی باندي ټینګار کړی دی الله جل جلاله ټول انبياء په همدي باندي موصوف کړي دي او دغه لوړ اخلاق د هغوي صفت یی ګرځولی دی الله جل جلاله د ابراهیم علیه وسلم په هکله فرمایي:« وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى » همدارنګه الله جل جلاله د یحی علیه السلام په هکله فرمایلي دي: « وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا » ژباړه:« او د خپل مور او پلار حق پیژندونکی ؤ، هغه نه زور زیاتی کوونکی ؤ، نه سرغړوونکی.».
بی له شکه په خلکو کې تر ټولو زیات د نیکي وړ مور او پلار دي ځکه چې هغوي پخپلو بچو باندي ډیر زیات کړیدلي وي الله جل جلاله مونږ ته امر کړی دی چې د والدینو سره نیکي وکړو او هغوي ته وفاداره ووسو الله جل جلاله اولادونو ته امر کړي دی چې د والدینو سره نیکي وکړي دا په هغه وخت کې چې مور او پلار کمزوري شي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ

الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا *وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا» ژباړه:« او ستا رب پرېکړه کړېده چي: تاسي د الله پرته بل د هيچا عبادت مه وکړئ. له مور او پلار سره ښه چار چلند وکړئ. که ستا سره له هغو څخه يو يا دواړه زړښت ته ورسيږي، نو هغو ته اُف قدري مه وايه. مه هغو ته په تور بريښ ځواب ورکوه، بلکي له هغو سره په درناوي خبري کوه؛ او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندي مات غاړي اوسه، او دا دُعا کوه: "پروردګاره! پر دوی رحم وکړه، لکه څنګه چي دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کښي زه پاللی وم."» همدارنګه د والدينو سره وفا او نيکي کول د هغوي د مرګ څخه وروسته هم ترسره کيدلي شي لکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم په همدي باندي ټينګار کړی دی.

همدارنګه د وفاء او د نيکي په بدله کې د نيکی ترسره کولو د ډولونو څخه يو هم د ښځي او د ميړه ترمنځ وفاء کول دي پداسي ډول سره چې يو د بل حقونه اداء شي او يو له بل سره نيکي ترسره شي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه:« او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه يې ميرمني پيدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي يې مينه او خواخوږي پيداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډيري نښاني دي چي غور او فکر کوي.» همدارنګه نبي کريم صل الله عليه وسلم هم په همدي باندي ټينګار کړی دی چې بايد يو له بل سره په ښه ډول ژوند ترسره شي او که يو څوک د پيغمبر صل الله عليه وسلم په ژوند کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې هغه د خپلو بی بيانو سره هميشه نيکي او وفاء کړی ده ځکه چې هغه د خديجه رضي الله عنها سره نيکي کوله او د هغي د نيکو بدله يې پوره

کوله ځکه چې هغه د نبي کریم صل الله علیه وسلم سره ډیری نیکیاني کړي وي پیغمبر صل الله علیه وسلم د حضرت خدیجي رضي الله عنها د مرګ څخه وروسته هغه یی یادونه کوله همیشه به د هغه ښه بیانول او بخښنه به یی ورته غوښتله او همدارنګه د هغه ملګرو ته به یی عزت ورکولو یوه ورځ یوه بوډي نبي کریم صل الله علیه وسلم ته راغله نو پیغمبر صل الله علیه وسلم د هغه ډیر ښه استقبال وکړ حضرت عایشه رضي الله عنها د نبي کریم صل الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه نو نبي کریم صل الله علیه ورته وفرمایل چې دا د خدیجي رضي الله عنها په زمانه کې مونږ ته راتلله او نیکي کول د ایمان یوه برخه ده.
همدارنګه د وفاء او د نیکي کولو د شکلونو څخه بل هم د فضیلت د خاوندانو سره نیکي ده او دا زمونږد پیغمبر صل الله عیه وسلم په بیلابیلو دریځونو کې ذکر شوی او یاده شوی ده کله چې پیغمبر صل الله علیه وسلم د انصارو ستاینه کوله په هغه وخت کې چې یی غنیمتونه ویشل نو په همدی باندي ټینګار وکړ چې الله جل جلاله دي په انصارو باندي رحم وکړي او د هغوي په اولادونو باندي او د هغوي د اولادونو په اودلادونو باندي، همدارنګه نبي کریم صل الله علیه وسلم د انصارو په هکله په نورواحادیثو کې هم ټینګار کړی دی ځکه چې فرمایلي دي چې د هغوي سره نیکي کوي او د بدیو څخه یی تیریږي همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په هکله فرمایلي دي چې ماته په خلکو کي ډیر امین پخپل مال او صحبت کې ابوبکر صدیق رضي الله عنه دي.
د فضیلت د خاوندانو سره نیکي او وفاء کول ددی مخالفینو ته هم شامليږي پداسی ډول سره چې د هغوي سره هم نیکي وکړي او دا د پیغمبر صل الله علیه په هغه حدیث کې برڅیره شوی ده چې د بدر په ورځ باندي د مطعم بن عدي یادونه وکړه او هغه سړیَ چې کله بیرته طایف څخه نه مکي مکرمي ته راغي نو د هغه ترڅنګ وو پیغبمر صل الله علیه وسلم په هغه

وخت کې وفرمایل که چیرته مطعم بن عدی ژوندئ وي او ماته یی د بدر د غزاء د بندیانو په هکله خبري کړي واي نو ما به د هغه د پاره ډوي پریښی وو.
د وفاء او د نیکیو په بدل کې د نیکو د جملي څخه بل هم د ښوونکي سره وفاء کول دي او هغه پداسی ډول سره چې د هغه احترام او درناوي وکړي او دعاء ورته وکړي ابوحنیفه رحمه الله فرمایلي دي چې ما په یو لمونځ کې هم خپل شیخ حماد نه دی هیر کړی همیشه به مي هغه ته بخښنه او استغفار غوښتلو او د خپل پلار سره یو ځاي د هغه یادونه به مي کوله او همدارنګه د هغوی چا څخه به مي یادونه کوله چې ما تري علم ترلاسه کړی دی امام احمد رحمه الله فرمایی چې په دیرشو کالو کې داسی یوه شپه نده تیره شوی چې ما امام شافعي رحمه الله ته دعاء نوي کړي او د هغه لپآره مي د استغفار غوښتنه نه وي کړي.

*********

**ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکئ سره د هغه تابعداري کوي.**
همدارنګه د وفاء او د نیکیو په بدل کې د ترسره کولو د لوړو شکلونو څخه بل هم د هیواد سره وفاء کول دي او دا د لوړو ارزښتونو د جملي څخه ګڼل کیږي اصمعي رحمه الله فرمایی: که چیرته ته د یو سړي وفاء غواړي وپیژني نو د هغه وفاء د خپل هیواد سره وګوره همدارنګه د خپلو نورو ورونو سره او همدارنګه دغه لوړ اخلاقو نمونه د پیغمبر صل الله علیه وسلم په زمانه کې هم څرګنده شوی وه چې د هجرت په شپه باندي چې کله نبي کریم صل الله علیه وسلم مکي مکرمي ته نظر وکړ دا په هغه وخت کې مکي مکرمي خلکو هغه ته زیان رسولی وو او د هغه خبره یی

نه وه منلي نو وى فرمايل چې اي مکي ته د الله په خاوره کې ترټولو ډير محبوبه خاوره يى که چيرته زما قوم زه لدي ځخه نه وم ويستلي نو زه به هيځکله نه وم وتلي او کله چې پيغمبر صل الله عليه وسلم مديني منوري ته ورسيدلو دغه حديث يى فرمايل: چې الله مونږ ته مدينې منوره داسى محبوبه ده لکه څنګه چې مکي مکرمي سره مو مينه لرله.

مونږ ديته ډيره اړتيا لرو چې د وفاء او د نيکيو په بدل کې د نيکيو ترسره کولو اخلاق په ځان کې راولو ځکه دا لوړ اخلاق دي او نفسونه ورسره خه کيږي او ايمان ورسره بشپړيږي نبي کريم صل الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په تاسو کې غوره هغه څوک دي چې هغوي وفاء او نيکي کوي همدارنګه پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايلي دي چې پشپړ مومنان هغه څوک دى چې هغوي نيکي کوي او همدارنګه اخلاق يى پوره وي.

**اي الله مونږ ته د نيکو اخلاقو توفيق راکړي او زمونږ ګران مصر او د نړۍ ټولو هيوادونو ساتنه وکړي.**